سال پنجم شماره ۱۷۰
شماره مسلسل ۷۹۶
پنجشنبه ۲۳ سرطان ۱۳۸۴ هـ ش
۷ جمادی الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
14 July, 2005

PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

۱۷ مخالف جنګیالي وژل شوي دي

په هیواد کې دامریکا پر مشرۍ دائتلاف ځواکونه وایي چې په زابل په ولایت کې یې یو لړعملیاتو کې ۱۷ مخالف جنګیالي وژلي دي.

په بګرام کې دائتلافي ځواکونو دمطبوعاتي دفتر له خوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې راغلي دي چې تیره ورځ دنوموړي ولایت د داي چوپان په ولسوالۍ کې عملیات ترسره شول چې د ۱۷ تنو په وژل کېدو برسیره شپږ نورجنګیالي ژوندي هم نیول شوي دي.

په اعلامیه کې زیاته شوې چې دغه عملیات دتیرو دوو ورځو په ترڅ کې ترسره شوي دي.

د خبرپاڼې له مخې دعملیاتو پر مهال په دغه سیمه کې په جګړه کې دلاس لرلو په تور ۲۳ نورشکمن کسان هم نیول شوي دي. ٤مخ



رئیس شورای علماء ولایت هلمند به شهادت رسید

مولوی صالح محمد، رئیس شورای علماء ولایت هلمند دیروز زمانی ازسوي افراد مسلح طالبان به شهادت رسید که بخاطر ادای نماز صبح بطرف مسجد روان بود. مولوی صالح محمد، باشنده قریه صافیان شهر لشکرگاه ولایت هلمند و خطیب مسجد جامع این شهر بود. طالبان که مسؤولیت قتل وی را بعهده گرفته اند، سال گذشته پسر وی را نیز به شهادت رسانده بودند. ص٤

دولت او ائتلافي ځواکونو ته مطلوب یو تن ونیول شو

د پکتیا ولایت امنیتي چارواکي وایي چې دوی او ائتلافي ځواکونو ته مطلوب یو تن یې نیولی دی.

دپکتیا ولایت دامنیت آمر سمونوال غلام نبي سالم پرون پژواک خبري آژانس ته ویلي چې نوموړی ملا محمد انور دباز محمد زوی دزرمت ولسوالۍ اوسیدونکی او په قوم اوریا خیل دی.

ده زیاته کړه: «نوموړی له دریو کلونو را هیسې پاکستان ته تښتیدلی و. او له هغه ځای څخه یې په دغه ولایت کې تخریبي کارونه کول. او په تروریستي پېښو کې یې لاس درلود.» ٤مخ

قاري انقلاب ووژل شو

دلغمان ولایت په مرکز کې دیوې دیني مدرسې مهتمم دچنګابښ په ۲۱مه نېټه دنامعلومو وسله والو لخوا ووژل شو.

دولایت د مرکز لوېدیځ لور ته ۱۵ کیلو مترۍ لیرې فیرزوی کلي کې دقصابانو ددیني مدرسې دوژل شوي مهتمم قاري انقلاب ورور امان الله پژواک خبري آژانس ته ویلي چې ورور یې کومه رسمي دنده نه لرله او دوی کومه شخصي دښمني هم نه لري.

دسیمې یو اوسېدونکی ضابط عبدالله وایي چې دده مړینه ښایي یوه تروریستي پېښه وي. ۴مخ

۵ طالب دستگیر شد

بگفته مقامات اردو ملی در ولایت کندهار، نیروهای آنها دیروز پنج طالب را در ولسوالی های خاکریز و ارغنداب دستگیر نموده اند. ص٤

د لوی او بښونکي خدای په نامه

سرمقاله

نتایج ارزیابی کاندیدان چقدر قانع کننده میتواند بود؟

انتخابات پارلمانی در کشور به هر اندازه یی که شفاف، دقیق و منظم و با احساس مسوولیت از سوی برگزار کننده گان، مردم و دولت به مثابه مرجع پشتیبان و تأمین کننده امنیت آن صورت گیرد، به همان مقیاس ما میتوانیم یک پارلمان سالم، موثر، کار آمد و بدور از دغدغه های قابل پیشبینی داشته باشیم.

در حالیکه در وضعیت کنونی با هنجاریهای موجود اعم از بی امنیتی، بی نظمی، فرمانروایی تفنگ بر ولایات، نبود شفافیت و در بسیاری موارد و در نزد بسیاری از مراجع، نبود احساس مسوولیت، این آرزو را تا حدود زیادی با دشواری رو برو میسازد. ص۴

چالش های انتخابات پارلمانی

کمیسیون انتخابات یا همان دفتر مشترک تنظیم انتخابات اعلام کرده است که نامزدی تقریبا شش هزار کاندیدا برای شرکت در انتخابات پارلمانی و ۳۴ شورای ولایتی تایید شده است.

انتخابات که تاریخ برگزاری آن ابتدا بهار گذشته تعیین شده بود اما تا ۱۸ سپتامبر به تاخیر افتاده است، آخرین گام در جدول زمانی سازمان ملل پس از سقوط طالبان در سال ۲۰۰۱ برای کمک به افغانستان برای گذار به نظام دموکراتیک است.

اما علیرغم تنگی فرصت، مقدمه چینی های زیادی باید انجام شود و مشکلات امنیتی همچنان ادامه دارد. ص٤



دطالبانو دوخت دکابل پوهنتون رئیس دستري محکمې اداري رئیس وټاکل شو

دستري محکمې درئیس اوقاضي القضات په وړاندیز او دولسمشر حامد کرزي په منظورۍ دطالبانو دامارت دوخت دکابل پوهنتون رئیس مولوي پیرمحمد روحاني دستري محکمې داداري چارو درئیس په توګه وټاکل شو.

دستري محکمې دقضایه قوې اواداري لوی امر ډاکټر عبدالمالک کاموي پژواک خبري آژانس ته ویلي چې دستري محکمې داسناد اوارتباط پخوانی مدیر محمد کریم دستري محکمې دمقام د دفتر درئیس اودعالي شورا ددارالانشاء پخوانی مدیر رحمت الله هم دتحریراتو د رئیس په توګه ټاکل شوی دی.

کاموي ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیاهېواد وال به په ستره محکمه کې دې ټاکنو ته دشک په سترګه ونه ګوري؟ ٤مخ

استرالیا به افغانستان نیرو اعزام می کند



استرالیا تصمیم دارد تا ماه سپتامبر سال جاری ۱۵۰ نیروی خاص به افغانستان اعزام کند.

جان هوارد، صدراعظم استرالیا گفته است این نیروها به مدت ۱۲ ماه در افغانستان مستقر خواهند بود.

استرالیا در سال ۲۰۰۱ نیروی ۱۵۰۰ نفری به افغانستان اعزام کرده بود اما این نیرو در سال ۲۰۰۲ به کشورشان بازگشتند.

تصمیم استرالیا برای اعزام مجدد ۱۵۰ سرباز به دنبال درخواست کمک دولت افغانستان، بریتانیا و امریکا صورت می گیرد. این درخواست در آستانه انتخابات پارلمانی کشور که قرار است در ماه سپتامبر برگزار شود، مطرح شد. ص٤

تصادم قطار در پاکستان بیش از ۱۰۰ کشته برجای گذاشت



پولیس پاکستان می گوید در اثر تصادم سه قطار در جنوب این کشور حداقل ۱۲۰ نفر کشته و تعداد بیشتری مجروح شده اند. این سانحه در یکی از مناطق دورافتاده ایالت سند و در حالی رخ داد که قطاری که از لاهور به سوی کراچی در حرکت بود، با سرعت به پشت یک قطار ایستاده برخورد کرد ص٤

کابل به له راکټي بریدونو څه نا څه په امن شي

په سروبي ولسوالۍ کې دوسلو او مهماتو د یوزیرمتون په کشفولو سره کېدای شي له هغه لوري په کابل د بریدونو مخنیوی وشي.

دوسلو او مهماتو دغه زیرمتون تېره ورځ دکابل ولایت دسروبي ولسوالۍ دکوه صافي له غره څخه (چې وخت ناوخت به په کابل ورڅخه راکټي بریدونه کېدل) ددولتي ځواکونو لاس ته ورغلی دی.

د سروبي ولسوالۍ د امنیې قوماندان سمونوال شېرشاه یوسفزي دڅرګندونو له مخې له دغه زیرمتون څخه چې دنوموړي غره ددهن قول په سیمه کې و ٤مخ

طیارات F16 بلجیم، وارد کابل شده اند

چهار فروند طیاره F16 مربوط کشور بلجیم، که قبلاً جهت تاءمین امنیت انتخابات پارلمانی به نیروهای آیساف وعده داده شده بود، روز ۲۱ سرطان در میدان هوایی کابل به زمین نشستند.

به گفته برید جنرال د. وان لیتم (Brig Gen D.VAN. LAETHEM) قوماندان هوایی نیروهای حافظ صلح بین المللی ISAF طیارات مذکور، ظرف نیم ساعت میتواند به دور ترین نقطه افغانستان برسد. ص٤

د سپکو وسلو د زیاتوالي مخنیوی او ټولول به کله کیږي؟

نابلد

په هیواد کې د څه کم دریو لسیزو په اوږدو کې د جګړو، دواړو خواوو ته د وسلو د ورکولو له امله چې دغه ورکول او بیلا بیلی مرستې د ځانګړو اهدافو په خاطر وې د وسلو ګدامونه جوړ شوي دي او همدغه خوری وری وسلې دي چې یا د ګدام په توګه د ځینو ځینو قوماندانانو په واك کې دي او په شخصي ډول خو د اکثرو هیوادوالو په کورونو کې موجود دي. که څه هم د وسلو ټولولو په کمپاین کې زیاتی درنی او سپکی وسلې ټولې شوي او کمپاین کابو پای ته رسیدونکی دی خو لاهم زیاتی وسلی له دغه کمپاین څخه پټی ساتل شوي دي. اوس ګورو چې له یوې خوا په هیواد کې خوری وری وسلې چې زیاتی په کې سپکی وسلې دي د تنظیمي او غیر تنظیمي اشخاصو په واك کې دي او له بلې خوا تخریبي عناصر هم نوی له کمین څخه راوتلي ښکاري سراسري امنیت له کلیو او باندو څخه د مرکز په لوري خرابیدونکی دی ان په مرکز کې یې زیاتی دورانیو، وژنو، ترور، غلا او لوټ او دغه راز د تښتونو پیښې له هیڅ چا څخه پټې نه دي نو پداسې یوه نا امنیتي فضا کې چې له یوې خوا امنیت خراب او پوښتنه یې کمزوري وي له بلې خوا د دښمنان موجود وي له بلې خوا وزګارتیا زیاته وي نو پداسې حالاتو کې خامخا له سپکو وسلو څخه په استفاده د امنیت د خرابولو او د یوې مړی ډوډی د لاسته راوړلو لپاره کار اخلي.

اوس زموږ د هیواد په همدغو نازکو او حساسو شرایطو کې باید دولت یوازې پدې بسنه ونه کړي چې د وسلو د ټولولو کمپاین پای ته ورسوي بلکی د هغو سپکو وسلو د ټولولو په برخه کې چې له شخصي خلکو سره په کورونو کې دی څه ځانګړي پروګرام تر لاس لاندې ونیسي.

خلك هیڅکله دی ته نه حاضریږي چې په خپله خوښه خپلې وسلې تحویل کړي او وسلی ته په کرکه وګوري. ډیر هیوادوال دا خبره هم کوي چې موږ دغه وسلې د خپلو کورونو د امنیت لپاره ساتلي دي که وسلی نه وي دغلاوو او چور خبری به نوری هم زیاتی شي د طالبانو د واکمنی په وخت کې خو هغوی د وسلو د ټولولو له پاره یو پروګرام نیولی و او که څه هم هغه وسلې په شخصي ډول د هماغه سیمې د مسوول په واك کې لویدلی خو په ولس کې یې نه یوازې دا چې وسلې کمی کړی بلکی تر زیاتی اندازې یې د غلاوو مخه هم نیولی وه. د بیلګې په توګه که د چاتر منځ به جګړه وشوه دواړو خواوی به یې تالاشي کړي او د دواړو له کورونو څخه به یې وسلې یوړې. که چا به قتل وکړ له نیول شوي قاتل څخه به یې لومړی وسله وړله که له چا سره به یې په لاره، ولس او ښار کې وسله ونیوله هغه به یې تری اخیستله. که چا به ځرك وکړ چې د فلانی قوماندان سره وسله ده له هغه څخه به یې وړله اوس هم چې موږ غواړو بې وسلې فضا رامنځته کړو باید له هغه چا سره چې وسله ولیدل شي یا تری استفاده وکړي امینتي مسوولین یې باید تری ونیسي که چیري په همدې توګه له ولسونو څخه وسلې را ټولې نشي د سراسري امنیت په راوستلو کې به ډیر خنډونه له منځه لاړ شي.

ځکه چې له خلکو سره نه یوازې د تخریبي عناصرو ویره ده بلکی ددغه شخصي سپکو وسلو ویره هم ده چې خبره لاندې باندې شي وسلو ته لاس کړي او همدغه سپکې وسلې دي چې په کلیو او باندو کې یې امنیت خراب کړی او ښارونو ته یې اغیزې رسیدلی دي او غلو هم له همدغو وسلو څخه په استفاده د خلکو سر او مال ته خطرونه رامنځته کړی دي.

د انتخاباتو معلومات
معلومات انتخاباتی
تاسو یوازې په هغه ولایت کې رایه ورکولای شئ چې ستاسو د نوم لیکنې په کارت کې لیکل شوی وي
شما میتوانید صرف در همان ولایتی رأی دهید که در کارت ثبت نام شما درج است
زموږ هیواد، زموږ راتلونکی، زموږ رایه
کشور ما، آینده ما، رای ما

افغانستان- پاکستان:
چانس ها و چالش ها

خلیل رومان

از زمان تشکیل پاکستان در همسایگی افغانستان، تفکر دخالت به انواع گوناگون در امور کشور ما یکی از گرایش های نیرومند درسیاست پاکستان بوده است. این گرایش همیشه به درجات مختلف تندی و کندي، مخفی وعلنی به مشاهده میرسد. در حالیکه در افغانستان شیوه های برخورد باقضیه گاه دشمنانه وگاه دوستانه، سرد و گرم تنظیم شده است. این نکته قابل تعمق است که صرف نظر از نوعیت دولت ها در پاکستان، آنکشور مخالفین دولت های مختلف را تحت پرورش ونوازش قرارداده وازآنان برای برآوردن اهداف کوتاه مدت ودراز مدت خویش استفاده برده است. بخوبی واضح میشود که علی الرغم تغیر و تبدیل ها و نوساسات درنظام های دو کشور، ایجاد دولت ها وحکومات متناقض و مخالف قبلي، سیاست مداخله در امورافغانستان کماکان ادامه داشته است.

پس بطور طبیعی پای یک استراتیژی عملاً تنظیم شده بر پایه منافع ملی پاکستان بمیدان کشیده می شود.

نگارنده براین عقیده است که کشور پاکستان منافع ملی خود را درتضعیف افغانستان. داشتن یک حکومت طرفدار در چوکات کنفدراسیون، نفوذ درساختارهای قدرت و سیاست بوسیله عمال مربوط و اعمال نوعی کنترول درسیاست افغانستان جستجومیکند. زیرا پاکستان هم به لحاظ تاریخ گذشته و هم در حال حاضر ضعف های ستراتیژیک و ضعف های جاری دارد که میخواهد آنرا بامداخله در افغانستان بپوشاند. عمده ترین کمبودها کدام ها اند؟

ضعف عمق استراتیژیک: این ضعف به مفهوم آن است که اسلام آباد از آخرین نقطه مرزی افغانستان حدود ۱۰۰ کیلومتر فاصله دارد. همچنان آخرین نقطه مرزی هند با اسلام آباد فاصله حدود ۵۰۰ کیلومتر را تشکیل میدهد.

درعین حال پاکستان همزمان باهند و افغانستان اختلافات جدی دارد. ترس طراحان سیاست پاکستان این است که مبادا روزی آنکشور مورد حمله همزمان وحتی متحدانه هند و افغانستان قرارگیرد. در این صورت حتی سلاح های تعارفی و کوتاه برد میتواند اهداف ستراتیژیک پاکستان را مورد هدف قراردهد. در چنین حالتی پاکستان قادر نخواهد بود تا امکانات مهم، ذخایر اسعار، موزیم ها، سلاح های ثقیل، تکنالوجی و دانشمندان آنکشور را از آسیب جنگ نجات دهد و از تیررس سلاح های مذکور مصؤون نگهدارد. بنابر این رمزمداخله تاریخی و مکرر پاکستان در امور افغانستان در نبود عمق ستراتیژیک نهفته است و مقامات آنکشور پیوسته تلاش ورزیده اند تا به نحوی از انحا این نقیصه را از طریق نوعی قیمومت داشتن در سیاست، اقتصاد، حکومت و بخشی از مردم افغانستان جبران کند. علی الرغم ادعاهای برخی از افغانها و مقامات دولتي، موجودیت یک افغانستان بپا ایستاده، متمدن، خودکفا، نیرومند و دارای روابط و مناسبات مهم و ستراتیژیک با سایر کشور های جهان، حداقل از دیدگاه عمق ستراتیژیک، به نفع منافع ملی پاکستان تلقی نمیگردد. این خوب است که افغانستان همواره نیات نیک خود را برای همکاری اقتصادی و روابط حسنه با کشورهای همسایه از جمله پاکستان ابراز میدارد. اما زبان سیاست و منافع، متاسفانه با احساسات بهی خواهانه همخوانی ندارد.

ادامه دارد

د بیارغونې په لور

متصدي صفحه: سباوون

د افغانستان لپاره د بیا ودانولو وجهي صندوق

تمویلوونکو هیوادونو د افغانستان د ملي بودجې د ملاتړ لپاره له یوبیلیون امریکایي ډالرو څخه زیاته مرسته وکړه

کابل، د ۲۰۰۵ ام کال د جولای د میاشتې ۱۰ مه نیټه: د ۲۰۰۵ ام کال د جون د میاشتې تر پای پورې څلورویشتو تمویلوونکو هیوادونو د افغانستان د بیا ودانولو د صندوق لپاره له یو بیلیون امرکایي ډالرو څخه زیاته مرسته وکړه. تمویلوونکو هیوادونو د ۲۰۰۲ ام کال د مې له میاشتې څخه را پدیخوا نوموړې پیسې د افغانستان د بیا ودانولو د صندوق لپاره ورکړې دي.

ښاغلی الستیر جې مککني، د افغانستان لپاره د نړیوال بانك د مرکزي دفتر ډایرکټر، داسې وویل: دافغانستان لپاره د بیا ودانولو وجهي صندوق چې له دوه کالو راهیسې فعال شوې د افغانستان د عادي بودجې د تمویل لپاره، د لومړنی پانګه اچوني او د هغو تخنیکي مرستندویو پروګرامونو لپاره حیاتی اهمیت لري چې د حکومت له موافقه شوي لمړیتوبونو سره سمون لري.

د افغانستان لپاره د بیا ودانولو وجهي صندوق د نړیوال بانك له خوا اداره او د منجمنت د کمیټې د څارنې لاندې فعالیت کوي چې د آسیا پرمختیایي بانك، اسلامي پرمختیایي بانك، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او نړیوال بانك څخه تشکیل شوی دی.

کله چې د ۲۰۰۲ ام کال د مې په میاشت کې نوموړی صندوق رامینځته شو دغه صندوق د افغانستان عادي بودجه د حکومت ثابت لګښتونه، د پانګه اچوني لمړنی پروژې او پروګرامونه یې ملاتړ کړل. نوموړی صندوق د دې لاندې چارې په ترسره کولو کې ډیره مرسته وکړه: د نړیوالې مرستې عادلانه ویش د حکومت له مالکیت او رهبری څخه ملاتړ. دغه صندوق د بیا ودانولو لپاره مرسته خرګنده او ملي بودجه یې پیاوړې کړه او همدارنګه یې د حکومت له محدود ظرفیت څخه اضافي پیتې لرې کړ.

په اوس مهال کې د افغانستان لپاره د بیا ودانولو وجهي صندوق د پانګه اچونې ۱۲ پروژې د هیواد په بیلا بیلو برخو او دا لاندې نوري پروژې تمویلوي: مالي منجمنت، کوچني پوروونه، ښوونه او روزنه، بریښنا، د اوبو د رسولو او روغتیایي آسانتیاوو پروژه، مخابرات او سړکونه.

د ۲۰۰۲ کال د مې له میاشتې څخه تر اوسه پورې د پانګې اچوني د پروژو لپاره د ۱۸۳ میلیونو ډالرو ژمنه شوې ده چې د هغو له جملې څخه ۹۴ میلیونه آمریکایي ډالره ورکړل شوي دي ویشل شوي دي. همدارنګه دافغانستان لپاره د بیا ودانولو وجهي صندوق د ۲۴۰۰۰۰ تنو ملکي مامورنیو معاشونه چې د روغتیا او ښوونې او روزنې په برخه کار کوي تمویل کړي دي ددغه معاشونو ورکړې عادي لګښتونه تر ۵۴۴ میلیونو امریکایي ډالرو پورې رسیږي، داسې هیله کیږي چې په ۱۳۸۴ ام کال کې به د پانګه اچوني د پروژو لپاره ۷۵ میلیونه امریکایي ډالره او د عادي لګښتونه لپاره اټکلي توګه ۲۸۰ میلیونه امریکایي ډالره ورکړل شي.

ښاغلی مککني وویل: اوس دغه صندوق له جګړې څخه وروسته هیواد د عادي بودجې د پوره کولو لپاره د یوې مهمې وسیلې په توګه منځ ته راغلی؟ داسې هیله کیږي چې دغه صندوق به په تدریجي ډول د حکومت پر عادي لګښتونو برسیره تخنیکي مرستې او د پانګه اچونې د پروژو په اساسي منبع بدل شي.

اکثر کمپنی در چین مختص برای صادرات تولیدات دارند

تقریباً بیست و پنج فیصد اموال وارداتی افغانستان ، ساخت کشور چین می باشد که نسبت به یک سال گذشته سی فیصد افزایش یافته است و به قیمت ارزانتر نسبت به دیگر اجناس در بازارها به فروش می رسد

محمد عظیم وردک رئیس تجارت خارجی وزارت تجارت به آژانس خبری پژواک گفته است که در سال ۱۳۸۳ تجارت دورانی کشور چین و افغانستان حدود پنج صد میلیون دالر و در سال ۱۳۸۲ حدود ۳۸۳ میلیون دالر بوده است

این در حالی است که صادرات افغانستان به این کشور یک فیصد این تجارت دوارنی را هم تشکیل نمی دهد

به گفتهٔ وی چین در سرتاسر جهان در سال گذشته حدود شش صد میلیارد دالر صادرات داشته است

به گفته غلام نبی فراهی معین تجارتی وزارت تجارت ، به طور مجموعی واردات افغانستان از کشورهای مختلف بیش از دو میلیارد دالر امریکایی و صادرات کشورتنها بیش از سه صد میلیون دالر می باشد

بر روی بیشتر اموال که در دکان های مختلف چون لباس فروشی ، وسایل الکترونیکی ، تکه فروشی ، چپلی فروشی و غیره موجود است ، مارک made in china را می توان دید

مردم نیز برای خرید اجناس چینی نسبت به دیگر اجناس علاقمندی دارند

عطامحمد فقیرزاده یکتن از باشنده گان شهر کابل در حالیکه ترموز دو لیتره چینایی را از یکی از فروشگاهای شهر کابل به ۱۲۰ افغانی خریداری نموده بود ، گفت که اموال چینایی را به دیگر اموال ترجیح می دهد

وی ، به ترموز چینایی که در دست داشت اشاره نموده گفت : «داسې ترموز په ۱۲۰ افغانی رسام رسامي کوي نه ، د یوه جاپاني ترموز په قیمت لس داسې ترموزونه اخستل کیږي . »

تجار نیز می گویند که آنها اموال چینی را به این خاطر وارد می کنند که نسبت به قیمت کیفیت خوب دارند

به گفتهٔ حمید الله قادری رئیس عامل اتاق تجارت بین المللی افغانستان ، مردم می خواهند که جنس ارزان بخرند و اموال چینی ارزان می باشد

موصوف افزود : «پالیسی مثبت حکومت چین نسبت به سکتور خصوصی و کار ارزان باعث شده است تا تولیدات آن کشور ارزان تمام شود » چینایی ها نیز این موضوع را تائید می کنند

جن مائی (Jin Mayee) کارمند کمپنی ذوب فلز به نام فوسیکو انگلستانی در شهر ننجانگ کشور چین، به آژانس خبری پژواک گفته است که ازدیاد مواد خام ،موجودیت کارگر ارزان و تسهیلات دولت (عدم اخذ تکس از صادرات) در آن کشور باعث تمام شد ارزان تولیدات می گردد

وی خاطر نشان ساخت که اکثرکمپنی هادر چین ، مختص برای صادرات تولیدات دارند

جن مائی میگوید : «ما میخواهیم که مارکیت خارجی دنیا را درکنترول خود داشته باشیم »

صادرات از کشورهای مختلف در افغانستان بسیار زیادمی باشد در حالی که تولیدات داخلی حتی تکافوی مصارف مردم را هم نمی کند

به گفتهٔ وردک ، در دوران جنگها در افغانستان فابریکه ها از بین رفت و سرمایه ها فرارکرد، وی افزود : «در کشور جای تولید را تورید گرفته است »

وی معتقد است که در شرایط فعلی، در کنار مشکلات باقی از سالهای جنگ و خشکسالی ، نداشتن زمین ، بروکراسی ، نبود برق ، آب و امکانات زیر بنایی موانع دیگر در راه سرمایه گذاری هامی باشد

قرار معلومات موصوف ، در شرایط کنونی برای رفع نیازمندی ها واردات کشور در حال افزایش است اما به نظر نامبرده این رشد منفی است زیرا باید میان صادرات و واردات کشور تعادل وجود داشته باشد

وی می گوید که اکثریت اموال تجارتی از کشورهای پاکستان ، ایران و چین به افغانستان وارد می شود

الحاج حیات الله د هلمند د والي نماینده:

مونږ په خلکو د تکیه له امله امنیت خوندي کړی دی

د هلمند ولایت د هیواد د ځینو نورو ولایتونو په څیر ګمرکی عواید نه لري خو خلك یې د بیا جوړونو ارتیاوی له انتقادونو سره یو ځای وړاندې کوي او په هغه ولایت کې د عدالت د نشتوالی له امله هم له چارواکو سرټکوي. د ارادې ورځپاڼې خبریال په هغه ولایت کې یوازې د بیا جوړونو په هکله له الحاج حیات الله سره مرکه کړې ده چې متن یې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

د هلمند ولایت د والي استازی: غوارم خپله پوښتنه د هلمند په ولایت کې یوازې د بیا جوړونو په باره کې پیل کړم پدې برخه کې څه روښنایي واچوئ.

هلمند ولایت ګمرکی عواید نه لري موږ یوازې د ښاروالی عوایدو څخه کار اخلو او څه نا څه په انجوګانو او موسسو تکیه لرو موږ په خپلو کمو امکاناتو سره د ښار د نه سرکونو د ښاروالی په عوایدو قیرریزي کړې دي.

د خلکو د تفریح لپاره مو د کرزی په نامه یو استودیم د لوبو لپاره جوړ کړی چې کابو پنځه جریبه ځمکه ده. د ورزش امریت لپاره دری پوړیزه ودانۍ یکې جوړه شوې ده او لوژ یې هم په کې جوړ شوی دی.

په هلمند کې د مجاهدینو لومړنی والی حاجی محمد رسول اخونزاده په نامه یو تفریحي پارك جوړ شوی چې تر ۲۵ جریبو پورې پراخوالی لري.

پوښتنه: ریوټونه رارسیدلی چې ځینو وسله والو دولتي پارکونه او ځمکي نیولي تاسو پدې هکله د هلمند خلکو او دولت ته څه ځواب لرئ؟

هغه کسان چې دولتي ځمکي یې نیولي هغوی ته مو نمری ورکړي دولتي ملکیتونه مو تر خوشي کړي دي.

- وایي چې په هلمند کې د کورو لپاره نمری ویشل شوي دي خو اکثره یې د زور خاوندانو تر لاسه کړي دي پدې هکله که راته څه ووایې؟

مونږ په هلمند کې د C2. C1 او C3 په نامه د استوګنی پروژی جوړی کړی په لومړنیو دوو پروژو کې مو ۲۵۰۰ کورونو ته نمری ورکړي دي اوپه C3 کې مو ۱۲۰۰ کورونو ته نمری ورکړي دي موږ کورونو ته پدې ډول نمری ورکړی چې هر ریاست ته مو خبر ورکړی چې خپل مستحق کسان ښاروالی ته معرفی کړي هغوی چې څوك مستحق بللي هغوی ته مو نمری ورکړي دي.

- وایي چې د نهر سراج په ښوونځي کې شاګرد نشته او پوسته په کې ده او د انجونو د لیسې ساحه قوماندانانو په خپل منځ کې ویشلي ده مارکیټونه په کې جوړ شوی دی.

- ښوونځي شته هلکان او انجوني په کې په لوست بوخت دي PRT هم د کمپیوټرونو څوکیو او میزونو په برخه کې څه مرستی کړی دی خو کافی نه دی رښتیا ده چې اکثره ښوونځي ودانی نه لري او زده کوونکي یې زیات دي په موجودو خونو کې نه ځانیږي. مونږ په هلمند کې د انجونو د زده کړی لپاره زمینه برابره کړی ده او ښځو وکالت ته ځانونه کاندید کړي دي.

- او دبریښنا په هلکه څنګه؟

د کجکی د بریښنا بند چې د هلمند په سیند د هلمند د وادی د خړوبولو لپاره په ۱۹۵۲ کال کې بشپړی شوی دی ۹۰ میګا واټ بریښنا لري.

د هغه بند د بریښنا له ظرفیت څخه د هلمند ښار او کندهار ته بریښنا ورکول کیږي خو موږ داسې تصمیم ونیو چې لدې بریښنا څخه د کجکی، سنګین او موسی کلا ولسوالیو ته بریښنا ورکړو او دا کار عملي شوی دی.

امنیتي حالات په هلمند کې څنګه دي پدې برخه کې مو څه اجراات کړی دی؟

که امنیت نه وي د بیا جوړولو یو کار هم نه کیږي او ګډوډی راځي خو موږ د ګډوډی په مخنیوی کې خپل کوشش کوو او پدې ډول چې موږ خانونه له خلکو لیرې کړی نه دی مونږ په خلکو تکیه لرو مثلاً په موسی کلا کې دوو تخریبي عناصرو او دښمنانو مینونه ښخول خلکو رپوټ راکړ هغه مو ونیول دغه راز د نورزاد په ولسوالی ۶ کسان ونیول شول ۴ په ورشیر کې ونیول شول. دانه وایو چې دښمن نه شته هغوی هم خپل به مخامخا کوی خو موږ پرې قوي روحیه لرو.

همدا اوس مونږ په هره ولسوالی کې له تشکیل برسیره ریزرف قوتونه لرو چې هغه استخباراتي دندی ترسره کوي دوی ته معاش ورکوو مثلاً ۱۰۰ تنه په ورشیر ولسوالی کې، ۵۰ په سنګین کې ۵۰ په موسی کلا کې ۵۰ په خانشین کې او په ۵۰ په کجکی کې په امنیتي چارو کې په کار بوخت دی.

څه فکر کوی چې دا تخریبي عناصر له کوم لوری وسله وال کیږي او د تخریب لپاره رالیږل کیږي؟

دا خو څرګنده خبره ده چې زموږ د وطن ابادی او ارامی ته همسایه ګان سترګی نه شي غړولی همدغه همسایه ګان دي چې زموږ افغانان تیر باسي د تخریب لپاره یې راهڅوي مونږ د سرطان په شپږمه د څه د پاسه زرو تنو په ګډون په هلمند ولایت کې غونډه وکړه په هغې غونډه کې یو پریکړه لیك تصویب کړ له کرزی او بهرنیو ځواکونو څخه مو وغوښتل چې په پاکستان باندې فشار راوړي چې زموږ د هیواد ورانی لپاره د تخریبي عناصرو د راتګ هڅونو او وسله وال کیدو مخه ونیسي

- وایي چې د هلمند په ولایت کې قاچاقي شبکې زیاتی فعالی دی او د وسله وال زور خاوندان هم په کې ښکیل دی تاسو له دې خبرو سره موافق یاست؟

د اپینو قاچاق نه یوازې په هملند بلکې په نورو ولایاتو کې هم په همدې توګه روان دی خو تر خپله توانه زیار باسو چې دکر او قاچاق مخه یې ونیسو څه موده د مخه مو ۶۱۰ کیلو ګرامه اپین په عام محضر کې وسوځاوه او ۱,۵ ټنه اپین اوس هم نیولی پروت دي کابو ۵۰ کښت مو سږ کال منع کړ او راتلونکي کال کې به زیار وباسو چې بالکل کر اوقاچاق بند کړو خو موږ له دولت څخه هیله لرو چې د هلمند ولایت د بیا جوړونی په برخه کې پاملرنه وکړي ځکه چې مونږ ګمرکی عواید نه لرو او دښاروالی عواید د جوړونو لپاره کافي نه بلل کیږي او موږ خپله دنده او ملي مسوولیت بولو چې د سراسري امن په برخه کې په خپل سر او مال سره دفاع وکړو.

ACKU

دفتر همکاری های نظامی امریکا با افغانستان به دفتر همکاری های امنیتی تبدیل شد

دفتر همکاری های امنیتی امریکا با افغانستان، که بتاریخ ۲۱ سرطان جای دفتر همکاری های نظامی ایالات متحده امریکا با افغانستان را گرفت، علاوه از باز سازی وآموزش نیروی های اردوی ملی، در تربیه پولیس ملی نیز همکاری خواهد کرد. جنرال جان تی برینن .John T Brennan قوماندان عمومی دفتر همکاری های امنیتی ایالات متحده امریکا با افغانستان، اظهار داشت که دفتر جدید یکجا با کشور آلمان در تربیه پولیس ملی فعالیت را اغاز می نماید.

محفلی که به همین ارتباط در کمپ ایگرس Eggers نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا در کابل دایر شده بود بیرق دفتر همکاری های نظامی ایالات متحده امریکا توسط جنرال ایکن بیری LGT KARI W.EIKENBERRY قوماندان عمومی نیروهای ائتلاف و جنرال جان تی برینن John T. Brennan قوماندان دفتر جدید همکاری امنیتی ایالات متحده به غلاف کشیده شد، ودرعوض بیرق دفتر جدید همکاری امنیتی ایالات متحده با افغانستان در فضای کمپ مذکور به اهتزاز در آمد.

قاری انقلاب...

خو دلغمان د ملي امنيت رئيس جهان شاه وايي چې دی ګومان نه کوي چې دا دې کومه تروريستي پېښه وي. دده پر وينا دوی به هڅه وکړي چې دنومړي قاتلين ونيسي او قانون ته يې وسپاري.

دلغمان ولايت دامنيه قوماندانی مرستيال حاجي اکرم وايي چې نومړی قاري ښايي دغلو له خوا وژل شوی وي.

قاري انقلاب ددې مدرسې بنسټ ايښودونکی و چې اوس مهال په کې ۱۵۰ طالبان په زده کړو بوخت دي

تصادم قطار در ...

پس از آن، واگن ها در خط آهن و در مسیر حرکت سومین قطار که یک قطار سریع السیر بود، واژگون شدند.

یکی از خبرنگاران بی بی سی در ایالت سند پاکستان می گوید هر سه قطار مملو از مسافر بود.

امدادگران حاضر در صحنه تلاش می کنند مردم را از میان تکه پاره های واگن ها بیرون بیاورند.

پولیس هشدار داده است که تعداد کشته شدگان ممکن است به شکل قابل توجهی افزایش یابد.

این سانحه در نزدیکی شهر گوتکی، واقع در ۴۰۰ کیلومتری شمال شرقی کراچی رخ داده است

۱۷ مخالف جنګيالي...

په خبر پاڼه کې راغلي دي چې په دغو عملياتوکې ملي اردو اوملي پوليسوهم ونډه لرله.

په خبرپاڼوکې دائتلاف ديوه پوځي مشرجګړن ډوګلاس وين سيند maj Douglas vincent له خولې راغلي دي چې په دغه سخته جګړه کې چې په زابل ولايت کې ترسره شوې ده ددوی ځواکونو ډيرې برياوې ترلاسه کړې دي

نتایج ارزیابي کاندیدان ...

یکی از موارد ورود برخی از مهره های ناباب و ناخواسته و مخالف مصالح مردم و وطن است که اعمال گذشته شان سبب میشود که به عنوان (سرمه های آزموده) به کار گرفته شده و به شورا راه یابند و به سرنوشت ملت ووطن حاکم شوند.

اصولاً اگر دولت میخواست که متأسفانه عمداً با این خواست همنوا نبود، به نحو بهتری ازین امر جلوگیری شده میتوانست. به گونه مثال، قانون انتخابات موارد معینی را پیشبینی، تأکید، مشخص و تعریف کرده است، طوریکه درین قانون آمده که جنایتکاران جنگی و آنانیکه علیه منافع مردم و وطن قرار گرفته اند، نمیتوانند، خودرا کاندید کنند و یا اینکه تشخیص چنین اشخاص یعنی جنایتکار ان از صلاحیت کمیسیون انتخابات و محاکم است.

پرسش هایی که به میان می آید اینست که تجربهء انتخابات ریاست جمهوری و کار روایی های کمیسیون تنظیم انتخابات آن درین راستا امیدهای مردم را به یأس بدل ساخت و کمیسیون انتخابات همان را که خود میخواست خلاف آرزوی مردم به فرجام آورد.

اما در پارلمان که مسأله بسیار جدی تر از آن است، آیا محاکمی که چنین مأمول را به فرجام آورند، وجود دارد؟ و آیا کمیسیون مربوط به انتخابات آن مواردی را که به محکمه و سایر مراجع ارسال کرد پاسخ مساعد و قابل قبول که بتواند برائت شانرا در برابر مردم داشته باشد بدست آورد؟

وقتی می بینیم که قانون انتخابات چنین است و نتایج کارها هم اینگونه، پس با این گل آلودی ها چگونه میتوان به آب شفافی دل خوش کرد و در انتظار یک پارلمان مناسب و مساعد دقیقه شماری کرد؟!

طیارات اف ۱۶ بلجیم...

وی افزود که قبلاً کشور هالند نیز چهار فروند طیاره F۱۷ را به نیروهای آیساف کمک نموده بود.

جنرال مذکور همچنان افزود که ،این طیارات بتاریخ ۲۳ ماه جاری رسماً تسلیم قوماندانی نیروهای آیساف میشود.

به گفته وی ، طیارات مذکور مدت شش ماه در افغانستان باقی خواهند ماند.

هم اکنون هشت هزار تن از نیرو های آیساف در افغانستان مصرف فعالیت های بازسازی و امنیتی میباشند

چالش های انتخابات...

این نخستین انتخابات دموکراتیک پارلمانی درکشور خواهد بود.

تنها توجه به شمار نامزدهایی که ثبت نام کرده اند نشان می دهد که این انتخابات بسیار پیچیده تر از انتخابات ریاست جمهوری سال گذشته خواهد بود.

در جریان انتخابات ریاست جمهوری، رای دهندگان نامزد دلخواه خود را از میان کمتر از ۲۰ نفر انتخاب می کردند. این بار در مجموع تقریبا شش هزار نفر برای ۲۴۹ کرسی مجلس عوام یا برای ۴۲۰ کرسی شوراهای ولایتی رقابت می کنند.

چاپ اوراق اخذ رای به زودی آغاز می شود.

اما عده اي می گویند کارهای بسیار زیاد دیگری هست که باید برای آموزش مردم درباره انتخابات انجام شود. حتی گفته می شود که برخی از کاندیداها درک روشنی از نقش پارلمان تازه ندارند.

بنابه گزارش ها برخی از آنها خود را نامزد کرده اند چون شنیده اند که نمایندگان پارلمان یک موتر و معاش دالری دریافت خواهند کرد.

در همین حال خشونت ها ناگهان اوج گرفته است که به باور بسیاری، تلاشی برای وحشت افگندن در دل مردم و تضعیف فرآیند انتخاباتی است.

مقام های امنیتي می گویند در ماه های اخیر صدها نفر در حملات تحت رهبری پیکارجویان طالبان کشته شده اند.

کابل په له راکټي ...

د ۸۲ ملي متره توپ ۱۱۰ مرمۍ، د سکر اته توغندي، د هاوان ۵۰ مرمۍ، درې زيکويک، دوه زي او، د دهشکې ۱۷ شريده او د راکټ پنځه مرمۍ ترې لاسته را غلي دي.

يوسفزي وويل: ((چندين بار از منطقه كوه صافى بالاى كابل راكت فير شده و امكان بود كه به واسطه همين مهمات، كابل تحت تهديد قرارگيرد.))

هغه زياته کړه چې دغه مهمات او وسلې يې دعملياتو په ترڅ کې ترلاسه کړي خو دلاس لرلو په تور يې څوک نه دي نيولي.

د يوسفزي پروينا نيول شوي مهمات يې تېر ماښام کابل ته را لېږدولي دي.

د کورنيو چارو وزارت د مطبوعاتو مسوول دادمحمد راسا له دغې سيمې څخه د مهماتو لاس ته راوړل مهم وبلل، او زياته يې کړه: ((حتمي ده چې په دغه ځای کې به نور مهمات هم وي چې پلټنې يې ادامه لري.))

د سروبي ولسوالۍ چې له کابل څخه نږدې ۷۵ کيلومتره لرې سهيل ختيځ لور ته پرته ده، نږدې يوه مياشت وړاندې هم په کې د ننګرهار، لغمان او سروبي ولسوالۍ درې تنه اوسېدونکي دامنيتي ځواکونو له خوا د دوو جلا - جلا بريدونو په ترڅ کې له مهماتو او وسلوسره يو ځای نيول شوي وو.

په دغو مهماتو کې د سکر دېرش ۳۱ توغندي، د زيکويک او دهشکې ۱۲۰ صندوقه مرمۍ، د پرسونل ضد ۲۰ ماينونه، د ۷۵ ملي متري توپ پنځه مرمۍ، نږدې ۵۲ کيلو ګرامه تروتيل ډو له منفجره مواد او ۴۰ متره ثانيه سوزېدونکې فليتې شاملې وې.

استرالیا به افغانستان...

با نزدیک شدن زمان انتخابات، این نگرانی وجود دارد که افراد سابق رژیم طالبان به حملات خود شدت دهند.

جان هوارد، صدراعظم استرالیا در مورد اعزام این سربازان گفت: "پیشرفتی که در روند تشکیل یک دولت قانونی در افغانستان حاصل شده، اکنون هدف حملات روزافزون افراد طالبان و برخی از عناصر شبکه القاعده قرار گرفته است."

آقای هوارد گفت کشورش همچنین تصمیم دارد در اوایل سال آینده میلادی تا ۲۰۰ سرباز را به عنوان بخشی از یک تیم بازسازی به افغانستان اعزام کند.

رئیس شورای علماء...

حاجی محمد ایوب،معاون قومندانی امنیه ولایت هلمند ضمن تائید شهادت مولوی صالح محمد به آژانس خبری پژواک گفته است که نیروهای امنیتی چند فرد مشکوک را از محل حادثه دستگیر

موصوف گفت که تحقیقات از بازداشت شده گان ادامه دارد، وي از ارائه جزئیات بیشتر خودداری نمود.

مفتی لطیف الله حکیمی که مسؤولیت شهادت را بعهده گرفته ، گفته است که موصوف در لست اشخاصی شامل بود که از طرف طالبان (واجب القتل) اعلان گردیده اند.

حکیمی به آژانس خبری پژواک گفته است که مولوی صالح محمد امروز صبح از طرف طالبان به شهادت رسیده است.

وی ادعاء مقامات دولتی را مبنی بر اینکه گویا چند تن از طالبان را به اتهام شهادت مولوی صالح محمد دستگیر نموده اند ،تکذیب نمود.

قبل از این مولوی عبدالله فیاض رئیس شورای علماء ولایت کندهار به تاریخ هشتم جوزا به شهادت رسیده بود که طالبان مسؤولیت قتل را وی را نیز بعهده گرفته بودند.

د طالبانو د وخت د کابل...

ويلي چې له دولت سره هرڅوک همکاري کوي مکلف دی چې له اساسي قانون اود دولت له پاليسۍ سره سم عمل وکړي.

که څه هم کاموي دامني چې مولوي پيرمحمدروحاني دطالبانو دامارت پرمهال د کابل پوهنتون درئيس په توګه دنده ترسره کوله خو فکر نه کوي چې هېوادوال به دنومړي په اړه اندېښمن وي ځکه چې روحاني له دې وړاندې په يوه علمي مرکز(کابل پوهنتون) کې دنده ترسره کړې.

کاموي ، روحاني يوښه اداره وباله ، دی وايي : ((څومره چې زه خبريم هغه مهال چې روحاني دپوهنتون درياست چارې پرمخ بيولې نو په هغې اداره کې يې ښه فعال رول لوبولی دی.))

۵ طالب دستگیر...

محمد سرور، معاون قول اردو ۲۰۵ اتل کندهار گفت که ، سه طالب مشکوک در ولسوالی خاکریز و دو تن دیگر در ولسوالی ارغنداب ،طی یک سلسله عملیات دستگیر شده اند.

بگفته وی ،از نزد آنها پنج میل سلاح نیز بدست آمده که برای فعالیت های تخریبی در منطقه از آن استفاده مینمودند.

دولت او ائتلافی...

دغلام نبي سالم پر وينا دپکتيا ولايت امنيتي، استخباراتي او ائتلافي ځواکونه دده په لټه کې وو چې تيره ورځ په زرمت ولسوالۍ کې دځايي پوليسو لخوا ونيول شو او دنورو پلټنو لپاره يې ائتلافي ځواکونو ته سپارلی دی.

دزرمت ولسوالۍ د امنيې قوماندان سمونوال غفور وايي چې نومړی له يوې مياشتې راهيسې زرمت ته راغلی و، او پټ ګرځيده . دده پر وينا چې نومړی په ډيرو تروريستي پېښو کې په لاس لرلو تورن و.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون : سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

ACKU